# إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، فَقَالَ أَحَدُكُمْ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، فَقَالَ أَحَدُكُمْ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ثُمَّ قَالَ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، قَالَ: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، ثُمَّ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ». «کله چې اذان کوونکی: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي: نو ستاسو څخه دي يو اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ، ووايي، بيا چې (اذان کوونکی) أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، دا دي هم : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايی، نو دا دي هم : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايي، بيا چې (اذان کوونکی) حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ ووايي او دي به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ووايي، دا به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي، بيا چې مؤذن: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي، دا به هم: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي. بيا چې (اذان کوونکی) لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، او دا د زړه نه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ووايي، نو جنت ته داخل شو».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

اذان خلکو ته د وخت د داخلېدلو په اړه خبر ورکوي، او د آذان کلمې د ايماني عقيدې ټولګه ده. په دې حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د اذان د اورېدو پر مهال بيانوي چې اورېدونکی به د اذان کوونکي په څېر الفاظ ووايي، کله چې اذان کوونکی " الله أکبر" ووايي: نو اورېدنکی هم: " الله أکبر" وايي او همداسې وريسې، تر دې چې کله اذان کوونکی "حي على الصلاة" او "حي على الفلاح"، ووايي نو اورېدونکی به "لا حول ولا قوة إلا بالله" ووايي. او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا هم بيان کړه چې چا له مؤذن سره د زړه له اخلاصه (د اذان کلمې) تکرار کړې، نو جنت ته به داخل شي. او د اذان د کلمو معنا (په لاندې ډول ده) "الله أکبر": يعني دا چې هغه پاک ذات تر ټولو لوی، معزز او له هر شي څخه ستر دی. "أشهد أن لا إله إلا الله": يعني له الله پرته پر حقه بل معبود نشته. "أشهد أن محمّدًا رسول الله": يعني زه په خپله ژبه او زړه اعتراف کوم او شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی، د الله لخوا رالېږل شوی او اطاعت يې واجب دی. "حيَّ على الصَّلاة" يعني لمانځه ته راشئ، او د اورېدونکي دا وينا "لا حول ولا قوّة إلّا بالله"، دا معنا لري چې د اطاعت له موانعو څخه د خلاصون لپاره حيله او يا د کولو لپاره يې ځواک او قدرت نشته مګر د الله تعالى په توفيق سره. "حيَّ على الفلاح" يعني د کاميابۍ سبب ته راشئ، چې هغه جنت ګټل او له اور څخه ژغورل دي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee